۱۴۴۶ هـ ق (شعبان ۳۰ ـ ۶ رمضان نبته)
۱۴۰۳ هـ ل (کب ۱۱ ـ ۱۷ کب نبته)
۲۰۲۵ ز (مارچ ۱ ـ ۷ نبته)

حریت
خپلواکه او ناپېيلې اونيزه

ځانګړې ۹۹ مه ګڼه



ام سلمه رضي الله عنها
ام سـلمه رضي الله عنها او د هغې لومړنـی خاونـد ابوسلمه رضي الله عنه په هغه ډله کې شامل وو چې د حـق دښـمنانو له لاسـه يې وحشـتناک تعذيبونه او زړه دردونکي کړاوونه وګالل. په درېيم هجري کال کې د احد تاريخي ...
۴/ مخ



دهم حوت؛ ثبت افتخار ديگر در تاريخ زرين ملت افغان
افغانستان کشوری متشکل از اقوام، زبان‌ها و فرهنگ‌های مختلف اسـت که اين ويژه‌گی زيبايی خـاص را به اين سـرزمين بخشـيده است. ...
۴/ مخ



د سپين کاروان سرلاري
د سـپين کاروان سـرلاري د اسـلامي امـارت د پنځوس تنو مخکښو څېرو ژوند ليکونه دي چې راټولوونکی يې قاري عبدالسـتار سـعيد دی. دا کتاب حکمت خپرندويه ټولنې په ۴۲۸ مخونو کې خپور کړيدی. چاپ کال ...
٤/ مخ

## سرمقاله

# د حوت لسمه او اهميت يې

تاريـخ د هر ملـت د ازموينې، مقاومت او زغم له کيسـو ډک دی. د ملتونو د مبارزې او آزادۍ لپاره دين، خاوره، وطن، کلتور او هويت د اهميت وړ وي.

افغانسـتان چـې د تاريـخ پـه اوږدو کې يې بې شـمېره جګـړې، حملې او اشـغالونه تجربه کړي، په دومره اوږد عمر يې خپل عزت او شجاعت له لاسه نـه دی ورکـړی. د هر اشـغال پروړاندې يـې د مقاومت او دفاع نوې کيسـه ليکلې. د دغو اشـغالونو د ماتې ترشا د دې ملت ځواکمنتيا، د ارادو پياوړتيا او د خپلو ارزښتونو د ساتلو ژمنتيا پټه ده.

د حوت لسمه د افغانستان لپاره د دوو کارنامو ياد تازه کوي. دا ورځ د آزادۍ د غـرور ورځ هم ده. په دې تاريخ زړور مجاهدين د پکتيا شـاهيکوټ غرونو کې ودرېدل او د شـهيد قومندان ملا سـيف الرحمن منصور تقبله الله تر قيادت لاندې يې د جهاد بېرغ پورته کړ.

له همدغـه ډول غرونو د صليبـي يرغلګرو غرور مات شـو او نړۍ د افغاني غيرت په عظمت يو وار بيا وپوهېده.

په دې ورځ د دوحې تړون هم لاسـليک شو. داسې تړون چې د اشغال د پای او د افغانستان د آزادۍ سمبول وګرځېد.

دا تـړون د افغـان ولس د لسـيزو قربانيو پايله وه، چـې د الله جل جلاله په نصرت، د اسـلامي امارت په اسـتقامت او د ملت په نه ستړې کېدونکي صبر مثمره شوه.

د تړون د لاسليک پرمهال د تکبير لوړو غږونو نړۍ حيرانه کړه، چې ځنګه دې بې وزله ولس د ايمان په قوت د نړۍ ستر زبرځواک تسليمۍ ته مجبور کړ.

په دې ورځ د معرکې ډګر د فکر او عقيدې په مړاندو فتحه شو. دا د اسلامي امارت سياسـي بری وو. دوی نړۍ ته وښووده چې د افغانانو مبارزه په نظامي او سياسـي ډګر کې کامیابه ده. د دوی هڅه د حق او عدالت پر مبناء ده. د ايمـان او ماديت ترمنځ دا مقابله د حق په بريا پای ته ورسـېده او دنيا ته دا درس پاتې شو، چې افغانان هېڅکله د پرديو غلامي نه مني.

په دې ورځ د شـهيدانو ارواوې تسل شوې او د هغو مظلومو اولسونو زړونه راحت شـول، چې د بمباردونو او شـپنيو عملياتو له وحشته کړېدل. په دې ورځ د زندانونو دروازې ماتې شـوې، ۵ زره بنديان آزاد او کورنيو ته د خوښۍ زيري لاړل. دا د مظلومو آهونو اسـتجابت او د دعاوو قبولي وه، چې الله جل جلاله پرې خپل رحمت وکړ.

په دې ورځ افغانانو خپل کلتور، تاريخ او د آزادۍ روح نړۍ ته وښود. د دوحې غونډه کې د اسـلامي امارت استازو نړۍ ته د افغانانو سپېڅلتيا، لوړه شمله او د اسـتقلال غوښتنه معرفي کړه. دا نړيوالو ته پيغام و، چې که افغانان هر ځومره وځپل شـي، بيا به هم په مسـتۍ د خپل وطـن د آزادۍ ترانې زمزمه کوي.

دا د افغانانو لپاره د شـکر وېسـتلو ورځ ده، چې د آزادۍ هوا يې محسوسه کړه او زړونه يې د اسـلامي نظام له سيوري ډک شول. دا ورځ بايد نسلونه – نسلونه د مبارزې، استقامت او قربانۍ له درکه ژوندۍ وساتي. دا د راتلونکي نسـل لپـاره الهام دی، چـې آزادي قرباني غـواړي او اسـتقلاليت د ايمان په استقامت ساتل کېدای شي.

لسـم د حوت بايد هر افغان ته د درس، هوډ او ژمنې ورځ وي. داسې چې تل به خپل وطن د ايمان او مبارزې په توره سـاتي او هېڅکله به پرې د اشـغال تياري نه پرېږدي.

دا ورځ د افتخـار ډکـه پاڼـه ده. د عزت سـرليک دی او د سربښـندنې تلپاتې يادګار.

افغانسـتان به د حوت د لسـمې يـاد تل ژوندی سـاتي؛ ځکـه دا د ايمان، اسـتقلال، عـزت او آزادۍ ورځ ده. هغه چې افغانانو د نړۍ سـتر دجال ته د موسیٰ عليه‌السلام د سوک په زور ځواب ورکړ.

# د حوت لسمه ولې يادوو!؟

ليکنه: قاري عبدالستار سعيد

الله تعالی په قران کريم کې د سورة ابراهيم په پنځـم آيـت کـې د موسـی عليـه السـلام د سرګذشـت بيانولو په لړ کې فرمايي: و ذکرهم بايام الله... الله تعالی موسـی عليه السـلام په دې مأمـوروي چـې خپل قـوم ته ايـام الله ( د خدای ورځې) ور په ياد کړي. مفسـرينو کرامو د ( ايام الله) بېلابېل تفسـيرونه کړي. ځينې وايي له دې ورځو د موسی عليه السلام پر قوم راغلې هغه مهمـې ورځې مراد دي، چـې په هغو کې الله تعالـی پر دوی بېلابېـل نعمتونه کړي. الله تعالی د فرعون له ظلـم څخه خلاص کړي او يا نور مهم وقائع په کې پېښ شوي وي.

خو د اسـلامي امت لوی مفسـر علامه قرطبي رحمه الله د دې آيت په تفسـير کې د ( ايام الله) معنی داسـې کړې(يعني الأيام التي انتقم فيها من الأمـم الخالية) يعنـي الله تعالـی فرمايي خلکو ته هغه ورځې ورپـه زړه کړه چې په هغو کـې الله تعالی له تېرو شـويو قومونـو انتقام اخيستی، هغوی يې ذليل او رسوا کړي دي.

د بشريت تاريخ له داسې ډېرو وقائعو ډک دی، چـې الله تعالـی وخـت پـر وخـت د زمانـې مسـتکبرين او طواغيت د خپل قهـر په څپېړه وهلـي وي. په قران کريم کې د پخوانيو امتونو ډېـر قصص او داسـتانونه بيان شـوي دي. د قوم نوح، عاد، ثمود، قوم لوط، بني اسـرائيلو، اصحاب الفيل او نورو په شان هغه قومونه چې له برحق دين څخه يې سرکشي کړې، د خپل وخت برحق پيغمبران عليهم السـلام يې نه دي منلـي، بيـا الله تعالـی وربانـدې عبرتنـاک عذابونه راوستي او د کبر او غرور حالت يې د ذلت، محکوميت او ناکامۍ په حالت بدل شوی دی.

زموږ او تاسو په اوسني عصر کې د الله تعالی د قـدرت لـه عجائبـو يـوه مهمـه حادثـه پـه افغانسـتان کې د حق او باطل شل کلنه مبارزه وه. مـوږ وليدل چې د نړۍ مسـتکبر ځواکونه ټول سره يو ځای شول، تر خپل منځ يې پوځي، سياسي، اسـتخباراتي او هر ډول ايتلاف وکړ او بيا يې زمـوږ په هېواد افغانسـتان کې په نوي رامنځته شـوي اسـلامي نظام ( د افغانستان اسـلامي امارت) باندې هجـوم راوړ. دا هجوم دومره پراخ و چې شـايد تاريخ تر اوسـه تر دې حده ناموزون جنګ نه وي ليدلی. که يوې خوا ته د اسلامي امارت محدود شمېر ځواکونه وو چې ډېر ابتدائي جنګي وسائل يې په لاس کې درلودل، بـل اړخ ته د ناټـو د پوځي ايتلاف ۴۸ هېوادونـه چې له جملې يې درې نړيوال اټومي زبرځواکونه ( امريکا، فرانسه، برتانيه) دغه راز د اروپا نـور صنعتي او په نظامـي لحاظ ځواکمن هېوادونه يې برخوال وو.

د ناټو د پوځـي ايتلاف له غړو پرته په سـيمه او ګاونډ کې ډېر نور هېوادونه هم ورسـره همکار وو. موږ ليدل چې ډېرو هېوادونو خپله ځمکه او فضـا د يرغل لپـاره خدمت تـه وړانـدې کړل او امريکايانو په کې پوځي اډې جوړې کړې. ډېرو

ادامه در صفحه‌ی۳

نورو هېوادونو ورسره استخباراتي همکاري درلوده. د دې يرغل پراختيا له دې اټکلولای شئ چې کله د ۱۳۸۰ کال د ميزان په پنځلسمه په لومړي ځل امريکايانو او متحدينو يې پر افغانستان يرغل پيل کړ، په درسته نړۍ کې يوازينی هېواد چې دغه يرغل يې په صريحو ټکو وغانده هغه عراق هېواد و. نور د نړۍ اکثر هېوادونه د يرغل اشربانې او پاتې نور ورسره په پټه خوله موافق وو، تر دې چې د غندلو جرأت يې هم نه درلود.

لـه پوځي يرغل سـره تبليغاتي توپان هم راالوتی و، که له يوې خوا د اسـلامي امارت پر مجاهدينو د نړۍ وروستی ماډل وسلې ازمويل کېدلې، بل اړخ ته په پراخه کچه تبليغاتي او رواني جنګ هم پيل شوی و، تر څو د مجاهدينو روحيات مات او جنګي مورال يې وځپي.

مګر د الله تعالی به اراده وه، چې يو ځل بيا د خپل قدرت او نصرت عجائب دنيا ته ښکاره کړي. الله تعالی د نړيوال کفر د دې پراخ يرغل په وړاندې د خپلو تش لاسـو مجاهدينو زړونه محکم کړل. د هغوی عزم او ارادې يـې مضبوطـې کړې. هغـه امريکا او ناټو چې د نـړۍ اټومي طاقتونه ترې وېرېـدل د حق د لارې د مجاهدينو په نظر کې يې حيثيت د مچ د وزر په شان سپک شو.

هـو کې، کله چې پر الله تعالـی ايمان او توکل پوخ وي، کله چې د چا پـه زړه کې د الله تعالی عظمت ځای نيولـی وي، کله چې څوک له الله تعالی څخه وېرېږي، د هغه له زړه بيا د ماسـوالله وېره تېښـته کوي. د هغـه په زړه کې بيا د نړۍ ټول مادي زبرځواکونه د مچ د وزر حيثيت هم نه لري. ځکه د الله تعالی عظمت د مؤمـن په زړه کې د بل چـا عظمت نه پرېږدي. لکه ځنګه چې له الله تعالی څخه خوف چې د مؤمن له زړه نه د بل هر چا خوف ختموي او بيا مؤمن يوازې په الله تعالی باور او توکل لري.

لکه ځنګه چې د اسـلامي امارت مؤسـس مرحوم امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد ويلي و چې که جورج بوش موږ په شکست تهديدوي نو الله تعالی د نصرت وعده راکړې ده. د هماغه سپيڅلي ايمان او



ادامه در صفحه ی... ۳

# ۱۴ مياشتنی مهلت

ليکنه: درويش ځدراڼ

د يـخ ژمي پـای بيخي رالنـډ و، دا اوس د هر پسـرلي معمول و چې پيل بـه يې د پرديو په مرګونو کېده!

امريکا او نړېوالو ملګرو يې نه غوښـتل لکه د تېرو پسـرليو په څېر د پسـونو په شـان له ستونې راونيول شي.

نن يوه تاريخي هوکړه کېده، د سېمې او نړۍ د هېوادونـو او معتبرو سـازمانونو اسـتازي راټول شوي وو، دا رښـتيا هم تاريخي شېبې وې. دا تصـور نـه کېـده چـې يـو ورځ بـه پرمختللـې نـړۍ د افغـان انسـان د نـه ماتېدونکـو ارادو پر وړاندې د زور او فشـار پر ځای په نورو انتخابونو فکر کوي!

د شـاهي کوټ لـه څوکو پيل شـوی دا مزل اوس تـر هـر کلـي، کـور او د ښـار تـر کوڅو رسـيدلی و، نن يو ملت يو ځل بيا د وخت په بل سرکښـه او مغرور ځـواک دا منله چې له خـاورې به يې وځي، کټ مټ لکه ۱۹۱۹ کې يې چـې نيکونـو په انګريـزا او بيا يـې پلرونو په ۱۹۸۸ کې پر روسانو ومنل!

دا د تاريخ تکرار او د يو خونړي وحشـت پای شېبې وې. د شنبې په ورځ او د همدې حوت مياشـتې همـدا لسـمه نېټـه وه، د دوحـې شـرايدون هوټل تالار کې يو افغان پګړېوال د خپلـو خلکـو او خـاورې په اسـتازيتوب له امريکايي ډېپلوماټ سره د اشغال د خاتمې پـر هوکـړې د قلـم نوکـه کېښـوده، دا پـه حقيقت کې د پرېوتي غليم پر سـېنې د برچې ځوکـه وه، دا د يو نړېوال ايتلاف پر وړاندې د يو نه ماتېدونکي ملت د بريا جشـن و، بې له شـکه دا الهي نصرت و چې د وخت زورآور يې د يو بې وسه ملت پښو ته غورځول.

هو، دا هوکړه تاريخـي وه. زرګونه کيلومتره لرې يو نړېوال زبرځواک د ځلوېښتو

پاتې برخه... ۳ مخ

هېوادونـو پـه ملتيـا د يـو ولـس د ځپلو، د هغـوی دينـي عقايـدو، اسـلامي رواياتـو او افغانـي غرور او هويـت د له منځـه وړو لپاره راغی، خـو الهي نصـرت يو ځل بيا بې اسـرې وګړي يواځې پرېنښـودل، هر څه د هغوی د تمې خلاف او د مومنانو له هيلو سره سم مخ ته لاړل. د وخت دې ياغي او باغي ځواک نن د خپلـو ماتـو لښـکرو د ويسـتو لپاره لـه هغو کسـانو مهلت غوښـت، چې دوی يـې د ځپلو لپـاره د وخـت تـر ټولـو پرمختللي وسـايل، امکانات او تاکتيکونه وکارول!

هو، د دوحې هوکړې د اشغال لمن ور ټوله او افغان انسان يو ځل بيا دا موکه پيدا کړه چې د خپل کور په غولي کې په ارام زړه ويده شـي، په ډاډه زړه خپلـې کرونډې ته ووځي، د خپلې عقيـدې او کلتور له مخې ژوند وکړي، په خپلو طبيعي شـتمنيو واکمن، له چـور او تالان يې مخنيوی وکـړي. همدا اقتصادي او سياسـي خپلواکي ده چـې د پرديو له اجازې اخېسـتو پرته د خپلـې ارادې په زور د لويو او ملي پروژو پـه اړه خپلـواک ګامونـه پورتـه او نـړۍ ته ووايي: موږ له هر چا سـره پـه متقابل درناوي ولاړې اړيکې غواړو.

د اشغال د خاتمې دې تړون نه يواځې دا چې افغـان جغرافيـه لـه نېـواک او زبېښـاک راوګرځولـه، بلکې د سـېمې او ګاونډ هغو نظامونـو هـم د ارام سـاه واخېسـته چې د امريکا او ناټو عسکر يې په درشل ولاړ وو!

له شـک پرته دا ورځ تاريخـي وه، دوی نور بې وسـه و، شـاوخوا شـل کاله يې دلته ټول زور وازمايلو، له پرمختللو وسـلو بيا تر ټولو مادي او ټولنيزو سـرچينو يې کار واخيست، خو پايله يې د سـر او مال له زيان پرته بل څه نه وه!

ورځ تـر بلـې د تابوتونـو انتقـال زياتيـده او مصرفيدونکو ډالرو هيڅ ځای نه نيوه.

د هغـو ارقامـو له مخـې چې د امريکا دفاع وزارت پنټاګان د اشـغال له پيل بيـا تر پايه خپاره کړي شاوخوا درې ترېليونه امريکايي

# ۱۰ حوت؛ از اقتدار نظامی تا تفوق سياسی!

**(به‌مناسبت ۵مین سال‌روز امضای پيمان پايان اشغال بين امارت اسلامی افغانستان و دولت امريکا در دوحه قطر)**

نويسنده: سعيد مبارز

امروز ۱۰ حوت ۱۴۰۳ هـ.ش. مصادف با پنجمين سـال‌روز امضای توافق‌نامه يا پيمان پايان اشـغال بين امارت اسـلامی افغانسـتان و دولت امريکا می‌باشـد، که با ميانجی‌گری کشـور قطر در شهر دوحه به امضای نمايندگان دو طرف صورت پذيرفت.

پنج سـال پيش نمايندگان امارت اسـلامی و دولت امريکا در مورد افغانستان چندين دور مذاکرات را انجـام دادنـد و در نتيجه دو طرف توافق کردند تـا توافق‌نامه‌يی را امضاء کنند، کـه برای هر دو جانب الزاميت داشته باشد و بلاخره به تاريخ ۲۹ فبروری ۲۰۲۰ م. مطابق با دهم حوت ۱۳۹۸ هـ.ش. و ۵ رجب ۱۴۴۱هـ.ق. اين توافق‌نامه توسط ملاعبدالغنی برادر رييس دفتر سياسی امارت اسلامی و مايک پامپئو وزير خارجه وقت دولت امريکا به حضور رسـانه‌ها و نمايندگان سياسـی کشـورهای مختلف جهان به امضاء رسيد.

امريکا با حمايت قاطع ناتو، در سـال ۲۰۰۱ م. با غرور و دبدبه‌ی فرعوني، برای سـرنگونی امارت اسلامی وارد افغانسـتان شد و از هر نوع ابزار، جهت نابودی حکومت تازه تأسيس امارت اسلامی استفاده کرد؛ تا اينکه توانست با حضور چشم‌گير نظامی خود حکومت جديد را مطابق ميل خودش تأسيس نمايد، حکومت که از سر تا پا وابسته به امريکا بود و هيچ صلاحيت تصميم‌گيری بدون اجازه آنان را نداشت.

پس از سـقوط امارت اسـلامی حکومت جديد با حمايت مالی، سياسـی، نظامی و اقتصادی امريکا به سرعت در حال گسترش و توسعه بود و ديری نگذشت که در تمام ولايات واحدهای اداری فعال گرديد و موج از مؤسسات و نهادهای بين المللی غرض کمک و همکاری به مردم، وارد افغانستان گرديدند.

هرچند مدتی را امريکا و متحدان آن در خواب آرام فرو رفته بودند و نگرانی امنيتی متوجه شـان نبود؛ اما ديری نگذشت که فعاليت‌های نظامی مجاهدين امارت اسلامی عليه امريکايی‌ها و همکاران داخلی شـان شروع گرديد و به‌تدريج در سراسر کشور گسـترش يافت و همه روزه شاهد فعاليت‌های نظامی، انفجارهـا، ترورهای هدفمند و حملات تهاجمی عليه قرارگاه‌ها، ميدان‌های هوايی، پايگاه‌ها و پوسـته های امنيتی بودند. امريکا برای سـرکوب و نابودی مجاهدين امارت اسلامی استراتيژی‌های مختلفی را به اجراء گذاشـت و در مقطع‌های مختلف زمانی، تعداد نيروهـای نظامی‌اش را افزايش داد و عمليات های شـب‌هنگام را شـدت بخشـيد؛ اما هيچ يکی از اين اسـتراتيژی‌ها مؤثر واقع نشـد و نه تنها مانع گسـترش فعاليت‌های نظامی مجاهدين نگرديد؛ بلکه روزبه‌روز بيشـتر می‌شـد تـا اينکه امريکا و هم پيمانانـش اذعان نمودن که برگ برنده‌ي اين جنگ به نام آن‌ها بلند نخواهد شـد؛ بلکه نتيجه به نفع افغان‌ها رقم خواهد خورد.

دنيـای متجاوز غرب و همکاران داخلی‌شـان بـه قدرت نظامـی و توانايی جنگيـدن مجاهدين امارت اسـلامی باورمند نبـود؛ اما به مرور زمـان پايمردی، اسـتقامت، ايثار، فداکاری و جان‌فشـانی بی‌نظير مجاهدين ثابت سـاخت که بازنده‌ی اين ميدان مجاهدين نه؛ بلکه امريکاست و آن‌ها هستند که بايد ناچار فرار را بر قرار ترجيح بدهند. اينجا بود که اقتدار نظامی و مديريت خردمندانه و هوشمندانه‌ي

# تاشکند ته د اسلامي امارت پلاوي سفر له لاسته راوړنو ډک و

**راپور:** حریت راډیو

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړی پلاوی د روان ۱۴۰۳ لمریزکال د کب میاشتې په ځلورمه نېټه ازبکستان ته ولاړ.

په دغه سفرکې د کانونو او پټرولیم، د ترانسپورت او هوايي چلند، د صنعت او سوداگرۍ، د کرنې اوبو لگولو او مالدارۍ وزیران، د افغانستان بانک لوی رئیس، د مالیې وزارت د عوایدو او گمرکونو مرستیال او د سکټوري ادارو استازو ورسره ملتیا کوله.

د دغه سفر موخه د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د سیاسي، اقتصادي، سوداگریزو او ترانزیټي اړیکو پراختیا او په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو کې د ازبکستاني پانگوالو د پانگونې جذب و چې دواړو لوریو پرې بحث او خبرې اترې کړي دي.

د اسلامي امارت پلاوی تاشکند ته له رسېدو سره د ازبکستان د لومړي وزیر له مرستیال جمشید خوجه یوف سره د کتنې په مهال د سوداگریزو او ترانزیټي اړیکو پر پراختیا خبرې وشوې.

اقتصادي مرستیال له خوجه یوف سره په ناسته کې د کابل او تاشکند ترمنځ د سوداگریزو اړیکو د پراختیا په موخه د ازبکستان د مرکزي بانک له لوري د بانکي انتقالاتو په برخه کې د لازمو اسانتیاوو پر رامنځته کولو، د افغانستان بانکي سکټور د ظرفیت لوړونې په برخه کې د ازبکستان پر همکارۍ، په سوداگریزه راکړه ورکړه، په سرحد کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د گمرکي سیستمونو پرژر وصل، د گډ بازار لپاره د توکو په انتقال کې افغان سوداگرو ته د اسانتیاوو په رامنځته کولو، د افغان سوداگرو پر وړاندې د سوداگریزو اجازه نامو له منځه وړلو، هغوی ته د ویزو د ورکړې په برخه کې د اسانتیاوو په رامنځته کولو او د کانونو په برخه کې د شویو توافقنامو عملي پیل باندې ټینگار وکړ.

په ناسته کې خوجه یوف وویل، تاشکند چمتو دی چې له کابل سره د سوداگریزو اړیکو د پراخولو په موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ په سرحد کې گډ سوداگریز زون رامنځته کړي. په دغه زون کې به د جلغوزیو او پنبې د پروسس فابریکې، د بسته‌بندۍ او لوجستیک مرکزونه او د یوشمېر خوراکي توکو د تولید کارخونې جوړې شي.

ازبکستاني لوري په یادو شویو برخو کې د ازبکستان له لوري د پوره همکارۍ داډ ورکړ او ویې ویل، تاشکند په ټولو اقتصادي برخو کې له کابل سره د گډ کار کولو لېوالتیا لري.

په دغه سفرکې ملا عبدالغني برادر اخوند د کب میاشتې په ځلورمه نېټه ماښام مهال د ازبکستان له لومړي وزیر عبدالله عارف‌اوف سره د کتنې په مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د شوو توافقنامو پر عملي کولو خبرې وشوې.

اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال د اسلامي امارت بهرني سیاست ته په اشارې سره وویل، د گاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو په اړه د اسلامي امارت سیاست بې‌طرفه او د نه مداخلې پر اصولو ولاړ دی او له دوی څخه هم همدې اصل ته د ژمن پاتې کېدو غوښتنه لري.

اقتصادي مرستیال د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د اوسپنې پټلۍ او سړکونو پراختیا مهمه او اساسي موضوع وبلله او ازبکستاني لوري ته یې بلنه ورکړه څو د مزارشریف - هرات او له هغه ځای څخه کندهار ته د اوسپنې پټلۍ پروژه کې چې ازبکستان له ایران او چین سره نښلوي، پانگونه وکړي.

همدارانز اقتصادي مرستیال د سالنگ لویې لارې د دوهم تونل جوړولو په برخه کې هم تاشکند ته د پانگونې بلنه ورکړه.

اقتصادي مرستیال وویل، د دې تونل له لارې مرکزي اسیا له جنوبي اسیا سره نښلول کېږي او د سیمې په ترانزیټ کې اساسي رول لري.

د ناستې په مهال د ازبکستان لومړي وزیر له افغانستان سره د اقتصادي اړیکو پر پراخوالي ټینگار وکړ او ویې ویل، ازبکستان د تاشکند او کابل ترمنځ د اقتصادي اړیکو او سوداگرۍ د پراختیا په موخه له ټولو شریکو شویو طرحو ملاتړ کوي او د عملي کېدو له پاره به یې د دواړو لورو تخنیکي ټیمونه خپل کار ته دوام ورکړي.

یاده دې وي، چې د ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړی پلاوی ازبکستان ته له دوه ورځني سفر وروسته د کب میاشتې په پنځمه نېټه ماسپښین مهال کابل ته راستون شو او دا سفر یې له لاسته راوړنو ډک وباله.

# د حوت لسمه د اسلامي امارت بریا

**لیکنه:** سید اکبر سیال وردگ

دا د تاریخ یوه مسلمه قاعده ده، چې امت کله هم خپل واقعي مسیر ته راگرځېدلی، نو الله سبحانه وتعالی عزت، نصرت او تمکین ورکړی دی. د افغانستان د اشغال خاتمه او د اسلامي امارت بریا هم د همدې الهي سنت یوه بله ننداره وه، چې امت ته یې یو ځل بیا ثابته کړه، چې کله چېرې د الله جل جلاله په رسۍ چمتو شي، نو د دنیا هر ځواک ورته تسلیمېږي.

دا ورځ یوازې د یوې سیاسي بریا ورځ نه ده، بلکې د امت د عقیدوي، شرعي، تاریخي او حماسي موقف یوه ستره مظاهره ده. دا هغه ورځ ده چې د امت سپېڅلي مجاهدین، چې د الله د دین د اقامې لپاره یې خپلې وینې تویې کړې، د خپل مبارک جهاد پایله یې ولیده. دا ورځ یوازې د یو هېواد د ازادۍ ورځ نه ده، بلکې د اسلامي تاریخ هغه زرین باب دی، چې د حق او باطل، ایمان او کفر، استقامت او تسلیمۍ ترمنځ توپیر بیانوي.

د امت مجاهدینو، علماء کرامو او د الله د دین د سرلوړۍ مینه‌والو، د اسلام د حاکمیت، د شریعت د تطبیق، او د اسلامي نظام د اقامې لپاره نه سترې کېدونکې مبارزه وکړه. دوی یوازې د یوې جغرافیې د ازادۍ لپاره نه، بلکې د شرعي احکامو د حاکمیت لپاره جگړه وکړه. الله تعالی د دوی صداقت ته نظر وکړ، د دوی استقامت یې وازمایه، د دوی قرباني یې قبولې کړې او بالاخره یې بریا نصیب کړه.

دا بریا یوازې د افغانستان د اسلامي امارت بریا نه ده، بلکې د ټول امت لپاره یو الهامي پیغام دی. دا پیغام هر مسلمان ته وایي، چې که د الله د دین لپاره ودرېږي، د کفري اشغال، ظلم، استعمار او دسیسو پر وړاندې صبر وکړي، د قربانیو میدان ته ځان چمتو کړي، نو الله تعالی به خامخا د خپل دین نصرت ورکوي. دا بریا امت ته دا درس ورکوي، چې د شریعت اقامه یوازې په سیاسي شعارونو نه کیږي، بلکې د جهاد، صبر، اخلاص او ایثار له لارې تحقق مومي.

اسلامي امارت ته اوس دا یو الهي فرصت په لاس ورغلی، چې د امت لپاره د اسلام یوه واقعي نمونه وړاندې کړي. دا د الله جل جلاله یو ستر امتحان دی، چې آیا امت د دې فرصت څخه د اسلام د تطبیق او اقامې لپاره کار اخلي، که یوازې د قدرت ساتلو ته متوجه کیږي. که اسلامي امارت د الله تعالی د شریعت حاکمیت ته متوجه شي، اسلامي نظام د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینې د دولت پر منهج باندې حاکم کړي، د عدالت، شرعي حدودو، اسلامي اقتصاد، شرعي محاکمو او د دین د تبلیغ لپاره سرتاسري هڅې وکړي، نو دا بریا به د اسلامي امت د بیدارۍ لپاره یوه لویه سته شي.

اوس، اسلامي امارت ته د داخل او خارج دواړو مسؤلیتونه متوجه دي. په داخل کې د اسلامي نظام پلي کول، د عدالت حاکمیت، د شرعي حدودو اقامه، د اسلامي تعلیماتو خپرول، د کفري نظریاتو مخنیوی، د فاسدو افکارو ځپل، او د اسلامي اخلاقو عامول ضروري دي. که دا مسؤلیتونه ادا نشي، نو دا بریا به نیمگړې پاتې شي، او که دا فرصت ضایع شي، نو امت به یو ځل بیا له سختو ازموینو سره مخ شي.

په خارج کې، اسلامي امارت ته دا مسؤلیت متوجه دی، چې د امت د یووالي لپاره کار وکړي، د اشغالگرو پر ضد د مقاومت الهام ورکړي، اسلامي نړۍ ته د شرعي نظام عملي مثال وړاندې کړي او د مسلمانانو زړونه د اسلام د حاکمیت لپاره روښانه کړي. امت باید پوه شي، چې اسلامي نظام یوازې د شعارونو، غونډو، او مقالو له لارې نه حاکمېږي، بلکې د عملي جهاد، مبارزې، قربانیو، او د نفس د تزکیې له لارې تحقق مومي.

د کفري نړۍ استخباراتي حربې، تبلیغاتي دسیسې، د اسلامي امت د تجزیې پلانونه، او د امارت پر ضد د بېلابېلو غربي او شرقي قوتونو مداخلې باید د الله د دین د حاکمیت لپاره د مبارزې په وړاندې خنډ نه شي. دا امت باید دا درک کړي، چې که نن یې اسلامي امارت حاکم شو، نو سبا د الله تعالی د نصرت په برکت دا امت کولی شي، چې د اسلامي خلافت مقدس هدف ته ځان ورسوي. دا باید هدف وي، دا باید نیت وي، او دا باید د هر مسلمان لپاره تر ټولو ستره هیله وي.

اسلامي امارت ته دا فرصت ورکړل شوی، چې د امت د زوال مخه ونیسي، د اسلامي نظام عملي تجربه نړۍ ته وړاندې کړي، د اسلامي احکامو په تطبیق کې تسامح ونه کړي، د شرعي قضا نظام پیاوړی کړي، د اقتصاد، معارف، د ټولنیز عدالت، او د دین د دعوت لپاره پراخې هڅې وکړي، تر څو دا بریا یوازې یو سیاسي تحول نه، بلکې د اسلامي امت د بیدارۍ پیلامه شي.

# توافق‌نامه‌ی دوحه؛ کلید پایان اشغال

**نویسنده:** عبدالله سروش



دهم حوت ۱۳۹۸ خورشیدی، روزی تاریخی در تاریخ معاصر افغانستان است که در آن توافق‌نامه‌ي دوحه میان امارت اسلامی افغانستان و هیئت مذاکره کننده‌ي امریکا به امضا رسید.

این توافق‌نامه نه تنها سرآغازی برای پایان اشغال بیست ساله در افغانستان بود؛ بلکه پیروزی بزرگ امارت اسلامی در عرصه‌ي سیاسی و دیپلماتیک نیز محسوب می‌شود.

امضای این توافق‌نامه بطور واضح نشان داد که، امریکا و ناتو نه تنها در میدان جنگ شکست نظامی خوردند؛ بلکه در عرصه دیپلماتیک نیز با شکست سنگینی مواجه شده‌اند.

یکی از ویژه‌گی‌های برجسته‌ی که در جریان مذاکرات دوحه به وضوح نمایان شد، تیزهوشی و مهارت‌های دیپلماتیک هیئت مذاکره‌کننده‌ي امارت اسلامی بود.

تیم مذاکره‌کننده‌ی امارت اسلامی با شناخت دقیق از منافع ملی و واقعیت‌های افغانستان توانستند امریکا و متحدانش را به پای میز مذاکره کشانده و شرایط را برای پایان جنگ و خروج نیروهای خارجی از افغانستان فراهم کنند.

در این مذاکره، امارت اسلامی نه تنها از حیث نظامی پیروز شد؛ بلکه در میدان سیاست نیز توانست با تیزهوشی و سیاست‌ورزی خود امریکا را به پذیرش شرایطی که به نفع افغانستان بود، وادار سازد.

آگاهان امور سیاسی و تحلیل‌گران، امضای توافق‌نامه‌ی دوحه را به‌عنوان یک پیروزی بزرگ در سطح بین‌المللی برای افغانستان تلقی می‌کنند.

در حالی‌که امریکا و ناتو در میدان نبرد شکست خورده‌بودند و روحیه خود را در میدان جنگ از دست داده‌بودند، در عرصه سیاست نیز همین روند ادامه یافت.

تصمیمات نادرست سیاستمداران امریکایی، ناتوانی آنان در درک شرایط واقعی افغانستان و عدم پیش‌بینی دقیق تحولات این کشور، موجب شد که امریکا مجبور به پذیرش توافقی شود که به طور غیرمستقیم نشان‌دهنده‌ي شکست آنان در مدیریت بحران افغانستان بود.

در طول دو دهه اشغال، امریکا و ناتو به این نتیجه رسیدند که تداوم حضور نظامی در افغانستان برای آنان نه تنها به هزینه‌های سنگین انسانی و مالی می‌انجامد؛ بلکه از نظر استراتژیک نیز غیرقابل توجیه است.

در نهایت، امریکا و متحدانش با ناتوانی در پیاده‌سازی اهداف خود، از راه‌حل‌های سیاسی بهره بردند و توافق‌نامه‌ي دوحه را امضا کردند.

این توافق‌نامه به‌ویژه در زمینه تعهدات دو طرف به تضمین‌های امنیتی و جلوگیری از استفاده از خاک افغانستان علیه کشورهای دیگر تأکید داشت.

با این حال، در حالی که امارت اسلامی بر تعهدات خود در این توافق‌نامه پابند ماند؛ اما جناح امریکایی تاکنون به طور مکرر از اجرای این تعهدات سر باز زده و آن‌ها را نقض کرده است.

منجمد کردن ذخایر ارزی افغانستان از سوی امریکا، اعمال تحریم‌های بانکی و ایجاد موانع در تعامل جهان با افغانستان از مواردی اند که، در نزدیک به چهار سال گذشته از سوی امریکا بالای افغانستان تحمیل شده و ضربات سنگین آن را مردم متقبل می‌شوند.

با این‌حال، توافق‌نامه‌ی دوحه از یک سو به عنوان نقطه پایانی برای اشغال بیست ساله‌ي افغانستان توسط امریکا و ناتو شناخته می شود و از سوی دیگر این توافق‌نامه نشان دهنده‌ي هوشمندی تیم‌های مذاکره‌کننده امارت اسلامی در عرصه جهانی است.

به اساس همین توافق‌نامه اشغال ۲۰ ساله در افغانستان پایان یافت و افغان‌ها یک بار دیگر توسط فرزندان اصیل خود به حریت و آزادی دست یافتند.

# سفینة البلخي رضي الله عنه

**لیکنه:** مفتي محمد شریف راشد

سفینه رضي الله عنه، چې خپل نوم یې مهران یا رومان بلخي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د سفینه لقب ورکړی دی. د أم المؤمنین أم سلمه رضي الله عنها غلام و، هغې ازاد کړو پدې شرط چې ټول عمر به د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کوي.

کنیت یې أبو عبد الرحمن یا أبو البختري و.

سفینه وایي چې: مونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د یو سفر پر مهال په یوه خوړ یا نهر تېرېدلو، نو ما له خلکو سره په پورې وتلو کې همکاري کوله، (د دوی سامانونه به مې په خپله شا له اوبو پورې وېستل) رسول الله صلی الله علیه وسلم راته ووېل: ته خو سفینه (کښتی) یې.

عن سعید بن جمهان قال: حدثني سفینة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:

قلتُ لسعید أین لقیتَ سفینةَ؟

سعید بن جهمان وایي چې سفینه رضي الله عنه ماته دا حدیث بیان کړو چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: خلافت به زما په امت کې دېرش کاله وي، بیا به له هغې وروسته بادشاهي وي.

الخلافة في أمتي ثلاثون سنة، ثم ملكا بعد ذلك. وذَكَرَ الحدیث.

راوي وایي ما سعید ته وویل چې: سفینه سره دې ملاقات کوم ځاي کې وشو؟ هغه وویل: (د مکې او طائف په لاره) په بطن نخله نومي ځاي کې. د حجاج بن یوسف په زمانه کې، اته شپې مې ورسره وکړې، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو په هکله به مې ترې پوښتنې کولې.

ما ترې وپوښتل ستا نوم څه دی؟

هغه وویل: خپل اصل نوم نه درته وایم، رسول لله صلی الله علیه وسلم په ما باندې سفینه نوم ایښی دی.

سعید وایي ما ترې وپوښتل: دا سفینه نوم یې ولې در باندې کېښود؟

هغه وفرمایل: یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو ملگرو سره په یو سفر ووتلو، په ځینو صحابه کرامو باندې خپل شیان درانده شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وویل: څادر دې وغوړوه، ما څادر وغوړولو، خپل پېټي یې پکې کېښودل.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وویل: دا په شا کړه، ته خو بس کښتۍ یې.

اِحْمِلْ فإنما أنت سفینةٌ.

که په دغې ورځ باندې ما د یو یا دوه، درې، څلورو، پنځو، شپږو، یا اوو اوښانو بار په شا کړی وای نو په ما باندې به نه وو دروند شوی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې:

سعید بن جمهان له سفینه رضي الله عنه نه روایت کوي چې: ام سلمه رضي الله عنها زه ازاد کړم، دا شرط یې را باندې ولگولو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت به کوې، ما ورته وویل: که ته دا شرط را باندې ونه لگوې هم، به زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کوم، یا دا چې: له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه به جدا نشم.

بیا یې زه ازاد کړم، او شرط یې را باندې ولگولو چې تر مرگه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کوم.

سفینه وایي چې : ما لس کاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کړی دی.

عن أبي ریحانة عن سفینة قال: خدمت رسول الله صلی الله علیه وسلم عشر سنین.

**له یوه زمري سره:**

ابو ریحانه له سفینه رضي الله عنه څخه روایت کوي چې: یو زمری راسره مخ شو، ما ورته وویل: زه سفینه یم، د رسول الله صلی الله علیه وسلم خادم، په لکۍ باندې یې ځمکه وهله او راته کښېناستلو.

په یو بل روایت کې راغلي چې: په سفرکې وم چې له یو زمري سره مخ شوم، ما ورته وویل: ابوالحارث! (دا دزمري کنیت دی) زه سفینه یم، درسول الله صلی الله علیه وسلم خادم، زمري ماته شاکړه لکۍ یې په پښو کې ونیوله نارې یې وهلې او روان شو.

سفینه وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به په یو مُد اوبو باندې اودس کولو او په یوه صاع اوبو به یې د جنابت غسل کولو.

وکان النبي صلی الله علیه وسلم یتوضأ بالْمُدِّ ویغتسل بالصاع من الجنابة.

سفینه وایي چې: په یو سفرکې په کشتۍ کې وم، په لاره کې کشتۍ ماته شوه، زه په یوه تخته باندې سپور شوم، د سمندر څپو یوې جزېرې ته ورسولم، هلته یو زمری و، زه ترې ونه بېرېدلم، ورتهومې ویل: ای ابو الحارث! (دا د زمري کنیت دی) زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خادم یم، هغه په خپله اوږه باندې ټېله کولم او راسره روان و، تر دې چې لارې ته یې ورسولم. بیا یې یو آواز وکړ او رانه جدا شو، زه پوه شوم چې دا آخري آواز د سلام لپاره و.

عن محمدِ بن المُنْكَدِر عن سفینة قال: ركبت البحر في سفینة فكسرت بنا، فركبت لَوحًا منها وطرحني في جزیرة فیها أسد، فلم یَرُعْنِيْ الأسدُ، فقلت: یا أبا الحارث أنا مولی رسول الله صلی الله علیه وسلم، فجعل یَغْمِزُنِيْ بمنكِبه حتی أقامني علی الطریق، ثم هَمْهَمَ، فظننتُ أنه للسلام.

په یو بل روایت کې راغلي چې: مونږ په یو تجارتي سفر په سمندر کې روان وو، کشتۍ ماته شوه، د سمندر څپو یوې وچې ته وویشتلو، زه چې له سمندر نه را ووتلم نه پوهېدم چې په کومه خوا لاړ شم، زما سترگې په یوه زمري ولگېدې، ما ورته وویل ابو الحارث! زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خادم یم، هغه یو آواز وکړو، بیا یې زه په خپل سر باندې ټېله کولم، زه هم ورسره روان وم، تر دې چې لارې ته یې ورسولم.

په ۷۱ه ق کې وفات شوی دی

## ...د حوت لسمه ولې یادوو!؟

راسـخ عزم برکـت و، چې تولې نـړۍ ولیدل چې بالاخـره صلیبي یرغلګر په نظامي ډګرکې په ګونډو شول.
موږ ولیدل چې د امریکا او ناټو پرمختللي پوځي تخنیک، الوتکو، ټانګونو او نظامي ټکنالوژۍ د تش لاسـي مجاهد د کلک ایمان او راسـخ عزم په وړاندې شکست وخوړ. نړۍ یو ځل بیا پر مادیت د ایمان د برلاسـی ننـداره وکړه. مغرور دښـمن چې د جنګ په میدان کې یې شکست خوړلی او تیښتې ته آماده و، بالاخره یې له خپل هغه دښـمن سره مذاکراتو ته آمادګي وښوده چې تر دې پخـوا یې د هغه لپاره یـوازې مرګ او زندان په نظـرکې نیولی و. بالاخـره د مذاکراتـي پروسـې په نتیجـه کې د حوت په لسـمه دښـمن رسـما خپل شکسـت ومانـه او د زمریالیو لـه ټاټوبي افغانستان څخه د وتلو مهالویش یې امضا کړ.
بناء د حوت لسمه پر باطل د حق د بریا هغه تاریخي ورځ ده چې په دې ورځ د نړۍ یو مسـتکبر طاغوت رسما خپل شکست مني. دا شکست یوازې د الهي نصرت نتیجه ده. د دغو وقائعو یادونه ځکـه ضـرور ده چې زموږ پـه ځوانانو او راتلونکو نسـلونو کې د ایمـان، معنویت او الهي نصـرت او وعدو د بـاور روحیه پیاوړې کوي. نن سـبا چې نړۍ مادیت ځپلې او خلک ظاهربین دي، باید داسـې د معنویت نه ډک درسـونه او عبرتنـاک واقعات راتازه او خلکـو ته بیان کړای شـي. تر څو د هغوی له سـترګو د مادیت پردې وشنډې او د الهي نصرت په وعدو یې ایمانونه محکم شي.

## ...۱۴ میاشتنی مهلت

ډالر یې لګولي، خو دې لګښـتونو داسـې ملموسـه پایلـه نه درلـوده چې امریکایي نظامیان او سیاسـیون یې د جګړې په ډګر کې د خپلې لاسته راوړنې په توګه ومني.
دا یـې د خپل تاریخ تر ټولو اوږده جګړه وه، د مقاومـت ځپلو پـر ځای یـې د نېواک کړۍ ورځ تر بلې محدودیـده او اوس د کانکریټي دیوالونو تر شاه هم خوندي نه و!
همـدا نظامـي او اقتصادي فشـارونه ددې لامل شول چې اشـغالګرو وپتیېله چې نور باید ځانونه د سربښـو له دې ډنډ وباسي، د مغـرور او سرکشـه دښـمن لـه حوصلې دا پورته وه چـې نور دې دا ملا ماتوونکي ځاني او مالي زیانونه وزغمي!
د کب یا حوت لسـمه د افغـان تاریخ یوه بله وړیامنه او تاریخي ورځ ده، افغان مبارزینو یو ځل بیا خپلو راتلونکو نسـلونو ته د افتخار یو بل لیکلی سـند په میراث پرېښود، ددې سند د متن دا یوه کرښه د بریا او ماتې ټوله کېسه داسـې رانغـاړي، مـوږ د خپلو ټولو عسـکرو وېستلو لپاره ۱۴ میاشتې مهلت غواړو.

## ...استعمار

لومړی – اقتصادي کړکېچونه؛ ډېری هغه سـیمې چې استعمار شوې وي، د خپلو سـرچینو کنټـرول یې لـه لاسـه ورکـړی او د مسـتعمره هېوادونو سـرچینې د اسـتعمارګرو لپاره د ودې په موخه کارول شـوې. استعمارووونکو هېوادونو چې کله هم مسـتعمره شـوي هېوادونه پرېښـي، هلته اصلي صنایع لـه منځه وړل شـوې، اقتصاد یې له تولیدي سـکټوره په مصرفي سـکټور بدل شـوی، طبیعي زېرمې یې چور شوې او زراعت یې د ډېر وخت لپاره د نورو په فرمایشونو ولاړ وي.
دویم – تولنیزې بې نظمی؛ د اسـتعمار له امله په ځینو ځایونو کې د سـیمه ییزو خلکو تر منـځ کلتوري او ټولنیزې ګډوډۍ رامنځته کېـږي، د یووالي ځنځیر مات، بېلتـون ته زمینه برابره او خلـک د اړتیاوو پوره کولو په موخه نـورو هېوادونو ته کډې کوي.
سـربېره پر دې د اسـتعمار پر مهال په مسـتعمره هېوادونو کې د خلکو طبقاتي جوړښت ته زمینه برابرېږي، په دغه بې نظمۍ کې یوه ډله تر اسمان خېژول کېږي او بله بیا تر ځمکه لاندې کېږي.
درېیم – سیاسـي بې ثباتي؛ کله چې اسـتعمارګر تر خپل تسـلط لانـدې حکومتونه جوړوي، دا حکومتي سیسـتمونه اکثراً د خلکو له اړتیاوو سـره سم نه وي؛ وروسته له دې چې اسـتعمار پای ته رسـېږي، کړکېچونه او له قانون پرته ډلـې ټپلې زیاتې، او هر څوک د خپل زور تر کچې د خپلو ګټو لپاره قانون جوړوي.
څلورم– کلتوري بدلونونه؛ اسـتعمار نه یوازې د اقتصادي او سیاسـي جوړښـتونو پر اسـاس بدلونونه راوستي، بلکې د کلتور، دین او ژبې په کچه هم لوی بدلونونه راغلي. د مسـتعمره هیوادونو په فرهنګي جوړښـت کې یې داسې بدلونونه راوستي، چې د هغوی اصلي کلتور له منځه وړل شـوی او د اسـتعمارګرو له غوښـتنو سـره سـمه فرهنګونو ته وده ورکړل شوې.
نو ویلی شـو، چې اسـتعمار د نړۍ په کچه خلکو ته له ظلم او درد پرته بل هېڅ څه په میراث نه دي پرېښي. دوی د جګړو او ظلم تجربې حاصلې کړي، چې د اغېزو له منځه وړلو په پار یې کلونه کلونه کار ته اړتیا ده.

## ...د افغان ملت د آزادۍ، صبر او قربانۍ ورځ

باور درلود، او بالاخره د ایمان په قوت یې د نړۍ تر ټولو ستر نظامي ځواک ماتې ته اړ کړ.
په ۲۰۲۱ زېږدیز کال د اګسـت په ۱۵مه، د اسـلامي امارت ځواکونه کابل ته داخل شـول، او اشغال ته یې د پای ټکی کېښود. دا یوازې یو سیاسي بدلون نه و، بلکې د شل کلن مقاومت، قربانیو او جهادي مبارزې بریا وه. اوس چې اسلامي امارت د افغانسـتان پر ټول قلمرو واکمن دی، دا د الله یو ستر نعمت دی. دا نعمت باید د یووالي، عدل، د اسلامي نظام د پیاوړتیا، او د هېواد د ثبات لپاره وکارول شي. د شـهیدانو، مجاهدینو، او د هغو کونډو او یتیمانو قربانۍ باید هېرې نشي، څوک چې د دې بریا لپاره قرباني شوي دي.
د حوت ۱۰مه یوازې یوه تاریخي نېټه نه ده، بلکې یو عبرتناک درس دی. دا ورځ موږ ته راښـیي چې که یو ملت خپل ایمان ته رېښـتینی وي، قربانۍ تـه چمتو وي، او صبر ولري، نو د نړۍ هر زبرځواک ته ماتې ورکولی شـي. له دغې ورځې باید زدکړو چې هیڅ اشغال پایښت نه لري. د صبر، تقوا، او استقامت ثمره بالاخره بریا ته رسېږي. د وسلې تر څنګ، تدبیر، حکمت، او سیاسـي بصیرت هم د بریا مهم عوامل دي او د اسـلامي نظام پیاوړتیا د ټول ملت مسؤلیت دی.
اوس چـې اسـلامي امارت واک ته رسـېدلی، دنده یـې دا ده چې عدالـت، امنیت، او اسلامي نظام ته دوام ورکړي. دا یوازې د امارت مسؤلیت نه دی، بلکې د افغانستان د هر وګړي مسـؤلیت دی. د ملت یووالی، صداقت، کار او ایماني باور کولای شي دا بریا تلپاتې کړي.

## دهم حوت؛
# ثبت افتخار دیگر در تاریخ زرین ملت افغان

نویسنده: مختار سادات

افغانسـتان کشـوری متشـکل از اقوام، زبان‌ها و فرهنگ‌های مختلفت اسـت که این ویژه‌گی زیبایـی خاص را به این سرزمین بخشیده اسـت. اما این تفاوت‌ها هیچ‌گاه نتوانسته که سبب جدایی این ملت گردد، تا جایی‌که دشمنان این سرزمین بارهاش تلاش کرده‌اند و تلاش دارند تا توسط بعضی از افراد دست نشانده‌ی خود میان این ملت زیر نام‌های مختلف نفاق افگنی کنند و وحدت ملت افغان را ضربه بزنند، ولیکن این تلاش‌های شیطانی‌شان تا هنوز تأثیر بر روحیه ی این ملت نداشـته و هیچ نتیجه‌ی ملموس را به دسـت نیاورده‌اند، چون ۹۹،۹٪ ملت افغان مسـلمان هسـتند و اسلام یگانه ارزش است که ملت افغان آن را بر همه تفاوت‌ها بالاتر دانسته می‌داند.
اگر چند این سـرزمین بارها بخاطر موقعیت جغرافیایی و شـجاعت و آزاده‌گی مردمان سـرزمین‌اش مورد تاخت و تاز قدرت‌ها بزرگ تاریخ قرار گرفته و از سـکندر مقدونی گرفته تا مغول، انگلیس، شـوروی و امریکا همه پی دیگر در ازمنه های مختلف تاریخ بر این دیار یورش بردند، اما هیچ یک از این‌ها نتوانسـتند که برای همیش بر این دیار تسـلط حاصل نمایند، زیرا در فطرت مردمان این سرزمین حس آزاده‌گی و رادمردی نهفته است که هیچ دشمنی نمی‌تواند در مقابل خشم که از حس دشمن ستیزی در افغان‌ها به میان آمده تاب آورد.
امریکا و همپیمانان‌اش آخرین گروه از متجاوزین بودند که تلاش کردند تا این سـرزمین را تحت تسـلط خود بیاورند، آنان برخلاف دیگر متجاوزین نه تنها این‌که میدان نبرد نظامی را گرم نگه‌داشـتند، بلکه جبهات دیگر نبرد را که عبارت از جبهات فکری و فرهنگی است به دست گرفت و بیست سال تمام از هر سو تلاش کردند تا این ملت را از هر طریق ممکن چه نظامی و چه فکری و فرهنگی از لحاظ باور و دیدگاه با خود یکی سـازند. این تلاش‌ها اگر چند بی تأثیر نبود و توده ی از جوانان ملت ما را با خود هم‌فکر سـاختند تا جایی‌که در یک سنگر با کفار بر علیه مجاهدین می‌جنگیدند، ولیکن از سوی دیگر این روند برده‌سازی جوانان ملت ما سبب افزایش نفرت و انزجار قشر آزاده‌خواه از اشغالگران شد که روز به روز صفوف مجاهدین را تقویت می‌بخشید.
امریکا نیز با وجود آن همه کبر و غرور که در ایام نخست اشغال داشت بعد از سپری نمودن چند سال، به قدرت ایمانی مجاهدین پی‌برد و دانسـت که مجاهدین تنها با سـلاح نمی‌جنگند بلکه نیروی دیگری نیز وجود دارد که سبب قوت و پیشروی آنان می‌گردد، که او از این قدرت محروم است و توان مقابله با آن را ندارد.
امریـکا با دیدن این وضعیـت تصمیم گرفت که راه و چاره‌ی را برای بیرون رفت از ایـن معضله دریابد، تا این‌که به این نتیجه رسید که راه دیگری جز تسلیم شدن به خواست‌های برحق مجاهدین وجود ندارد. این بود که امریکا با آن همه غروراش با جناح وارد مذاکره شـد که در ایام نخست اشـغال فقط دو انتخاب را پیش روی‌شان قرار داده بود یا این‌که زندان را بپذیرند و یا هم کشته می‌شوند.
این مذاکرات بعد از طی نمودن مراحل مختلف در ۱۰ حوت با امضای توافق‌نامه‌ی دوحه به پایان رسید که امریکا و ناتو رسماً خروج تمام عساکر خود را از افغانستان پذیرفتند.
باید گفت؛ نکته‌ی که در توافق‌نامه‌ی دوحه مهم و قابل توجه است این است که چرا و چه‌گونه فرعون عصر شاخ غرور اش شکست و در مقابل تعداد اندک از مجاهدین شکست خود را پذیرفت؟ مسلماً پاسخ این پرسش این است که نبرد میان امریکا و مجاهدین نبرد میان حق و باطل بود و حقا که باطل محکوم به شکست است و دیگر این‌که دهم حوت نتیجه‌ی ثبات، اسـتقامت، ایثار و فداکاری ملت افغان در راسـتای تحکیم حق و عدالت اسـت که با خون و اهدای جان های شیرین‌شـان آن را تحقق بخشـیدند. دهم حوت نتیجه‌ی اشک مادر است که در فراغ فرزند شهید خود ریخت و تا امـروز حتی محل دفن او را نمی‌داند. دهم حوت ثمره‌ی تربیت نیکوی پدران و مادران غیور این سـرزمین اسـت که با تقدیم نمودن فرزندان صالح و مجاهد نگذاشتند که میدان جهاد و اعداد خالی بماند.
در اخیر نظر من این اسـت که باید پیرامون این توافق‌نامه بحث صورت گیرد و ضمن زوایای سیاسی روی زوایای دینی، فرهنگی و اجتماعی این پیمان نیز نویسـنده‌گان و اهل قلم بنویسـند و نسـل‌های آینده را از ایـن افتخار بزرگ با خبر سازند، زیرا اگر ما ننویسیم دشمن حتماً می‌نویسد و حقیقت این پیمان را تحریف خواهد کرد که این کار سبب انحراف و بد بینی نسل‌های آینده نسبت به جهاد و قربانی ملت ما خواه شد.

## ...۱۰ حوت؛ از اقتدار نظامی تا تفوق سیاسی!

امارت اسـلامی برای اشـغال‌گران ثابت شـد و دانسـتند که قهرمـان این میدان کسـانی هستند که برای رسیدن به پیروزی از هیچ کسی هراسی ندارند و آماده‌اند تـا پیروزی را بـا خون خود رقم بزنند. لـذا امریکایی‌ها مجبور شـدند تا از گزینه‌ي دیپلوماسی اسـتفاده بکنند و با نشستن بالای میز مذاکره شیوه‌ي جنگ را تغییر بدهند و برای شان زمان بخرند.
پـس از این‌کـه امریـکا در عرصه‌ي نظامی ناامید شـد و دانسـت کـه آخر میدان شکست اسـت، تغییر جهت داد و آماده‌ی مذاکره و گفت‌وگوی مستقیم با امارت اسـلامی شـد. تیم مذاکراتی آن‌ها چندین جلسـه را با نمایندگان سیاسی امارت اسلامی برگزار کرد و مدت‌های زیادی را روی مسایل مختلف بحث و تبصره نمودند و از ترفندهای گوناگوی استفاده‌کردند تا حداقل در این میدان دستاوردی داشته باشـند؛ اما خوشـبختانه همه نقشـه‌های شـان نقش برآب شـد و آن‌چه امارت اسلامی می‌خواست، محقق گردید. بسـیاری‌ها چنانچه امریکا را همه‌کاره‌ی دنیا می‌داننـد و به قدرت مطلقـه‌ی آن باور دارند، همان‌طور که شکسـت امریکا را در عرصه‌ي نظامی ناممکن می‌دانسـتند، در عرصه سیاسی نیز به این باور بودند که تیم مذاکراتی امریکا که متشـکل از متخصصین نظامی، سیاسـی و حقوقی بود، حتما نمایندگان امارت اسـلامی را که ظاهراً از دانش عصری و سیاست پوهنتونی برخوردار نیستند، فریب می‌دهند و نتیجه‌ی بازی را به نفع خود شان رقم می‌زنند؛ امـا به مرور زمان برای همه مشـخص شـد که برخلاف انتظـار، نمایندگان امارت اسلامی خوب سنجیده پیش‌رفتند و چنانچه در میدان نبرد، دست بالایی داشتند در میز مذاکره نیز از اعتماد بنفس بالاتری برخوردار بودند و بر همه خواسـته‌های شـان تا آخرین مرحله پافشـاری کردند و ثابت نمودند، همان‌طوری‌که امریکا در میـدان نبرد با مجاهدین افغان شکسـت خورده اسـت، در میدان سیاسـت نیز محکوم به شکست است و باید از خواسته‌هایش تنزل نماید.
پـس از یک مبارزه‌ي نفس‌گیر نظامی و سیاسـی، افغانسـتان از لوث اشـغالگران امریکایی آزاد شـد و پیش از این‌که میدان‌هوایی کابل را ترک نمایند، رژیم دسـت نشـانده‌ی کابل سقوط نمود و تمام شـهرها، ولسـوالی‌ها و مناطق افغانستان بطور کامل به دسـترس مجاهدین امارت اسـلامی قرار گرفـت و یکبار دیگر زمینه برای اعاده‌ی نظام اسـلامی در کشور فراهم گردید و درفش توحید بر بلندای پامیر و هندوکـش به اهتزاز درآمد و صبـح آزادی در حالی طلوع نمـود که هیچ تبعه‌ی خارجی در کشور به عنوان اشغالگر وجود نداشت. الحمدلله!
امارت اسـلامی با گذشـت مدت کوتاهی، کابینه‌ی سرپرسـت را تشـکیل و اعلان نمود، روند حکومت‌داری به حالت عادی‌اش برگشت و تمام ادارات دولتی فعال گردید و از عواید داخلی، بودجه‌ی ملی کشـور تصویب شـد. بر خلاف باور دنیای غرب، روابـط دیپلوماتیک را با کشـورهای منطقـه و فرامنطقه برقرار کرد و بـرای دنیا ثابت نمـود، همان‌طوری‌که در زمان جنـگ، جنگجویان ورزیده و خوبی هسـتند، در زمان پسـاجنگ نیز مرد حکومت و زمام‌داری هستند و می‌توانند امور مملکت خویش را در دست بگیرند و از حریم، مقدسات و ارزش‌های دینی و ملی شان دفاع بکنند و مطابق عقیده و باور خود، دولت و حکومت بسازند.
اکنـون امـارت اسـلامی دارای فوج مقتـدری می‌باشـد کـه توانایی دفـاع از حریم افغانستان را داشته و برای هیچ بیگانه‌یی اجازه‌ي مداخله و اخلال را نمی‌دهد. امارت اسـلامی در چارچوب شـریعت، با چندین کشـور منطقه و فرامنطقـه روابط تجاری، اقتصادی و سیاسـی دارد و در چندین کشـور سـفارت‌های امارت اسلامی باز است و رسـماً فعالیت می‌کنند. این وضعیت هنوز در حال بهبود و گسـترش اسـت و روزانه نمایندگان و دیپلومات‌ها غرض درک بیشتر و تأمین ارتباطات از کشورهای مختلف به افغانستان سفر می‌کنند و با بزرگان امارت اسلامی دیدار می‌نمایند.
این بدین معناسـت که امارت اسـلامی بـا درک شـرایط کنونی و با تجربـه از دوران گذشـته، به مرحله‌ی از صلابت و پخته‌گی نظامی و سیاسـی رسیده است و در تلاش اسـت که بیشـتر از این به اقتدار نظامی و سیاسـی‌اش بیفزاید تا در آینده بتواند به عنوان یک دولت اسـلامی، مسـتقل، قدرتمند و مسـئول ظهور نماید و از ارزش‌های دینی و اسلامی کماحقه دفاع نماید. این حکومت آرزو و آرمان هزاران شهید، معلول، معیوب، آواره و مهاجر اسـت و بیشـتر از قبل قدرتمند خواهد شـد و زمینه‌ی رفاه و آسایش را در زیر سـایه‌ی گوارای نظام اسلامی و شریعت مقدس اسلام، برای ملت و مردم افغانستان مساعد خواهد ساخت. ان‌شاءالله تعالی!



## ۶ نومیالی مېرمنې

# ام سلمه رضي الله عنها

ټولونه: سیف الله قاسم

ام سـلمه ؓ او د هغې لومړنی خاوند ابوسلمه ؓ په هغه ډله کـې شـامل وو چـې د حق د دښـمنانو له لاسـه یې وحشـتناک تعذیبونه او زړه دردونکي کړاوونه وګالل.
په دریم هجري کال کې د احـد تاریخي غزا منځته راغله. حضرت ابوسلمه عبدالله مخزومي ؓ د خپل پېشوا حضرت محمد ﷺ په ملګرتیا په هغې کې برخه واخېسـته. د جګړې په دوران کې د ابواسـامه جشـمي په نوم یوه مشـرک په کیمن کې ناست او پرهغه باندې یې د زهرجن غشـي وار وکړ، چې د هغه مټ زخمي شـو. له یوې میاشتې علاج نه وروسـته په ظاهره روغ شو، خو د غشـي زهر ورو ورو د هغه په بـدن کار کاوه، تر څو چې څه موده وروسته ډېر سخت ناروغ شو. رسول اکرم ﷺ د هغه پوښتنې ته ورغی، کور ته چې دا خل شـو عبدالله ابو سـلمه ؓ په ځیرځیر سـره د خپل پېشـوا مبارک مخ ته وکتل او بـې له دې چې خبرې ورسره وکړي، روح یې والوت. د خپل خاوند په وفات باندې ام سلمه ؓ ته سـخت صدمه ورسـېده. رسول اکرم ﷺ هغـې ته د صبر تلقیـن وکړ او ورته یې وفرمایل: ابو سلمه ؓ ته د مغفرت دعا کوه...
د حق په لاره کې چې ام سـلمه او ابوسلمه ؓ کوم مصیبتونه زغملي وو، له پیغمبر ﷺ سـره د هغو ډېر احسـاس موجـود و. د هغې په بې اسرې توب او بېکسی باندې یې ترحم وفرمایه.
د حضرت عمر ؓ په وسـیله یـې د نکاح پیغام ورته ولېږه. هغې په خوښـی سره قبول کړ او د څلورم هجري کال د شوال په میاشت کې یې له رسول ﷺ سـره نـکاح وشـوه او پـه امهـات المومنین کې شامله شوه.
په مسند احمد بن حنبل کې پخپله د ام سلمه ؓ دا روایت راغلی دی، چې یوه ورځ ابوسلمه ؓ د رسـول ﷺ له مجلس نه ډېر خوشاله راغی راته ویې ویل: نن د رسول ﷺ وینا ډېر خوشـاله کړم چې ویې فرمایل: یو مسلمان چې د غم په وخت کې دا دعا وکړي چې خدایه! په دې مصیبت کې راسـره مرسـته وکړه او نعم البدل راکړه، نو خدای تعالی یې دعا قبلوي.
کله چې ابوسلمه ؓ وفات شو نو زه ډېره غمجنه شوم او همدا دعا مې وکړه، خو په عین وخت کې مې فکر وکړ، چې د ابوسلمه ؓ نعم البدل به څوک وي. کله چې زما عدت تېر شـو او پخپله رسول ﷺ راته د نکاح پیغام ولېږه، نو راته ثابته شوه چې الله تعالی ماته د ابو سلمه ؓ څخه ډېر غوره خاوند راپه برخه کړ.
له پیغمبر ﷺ سره له نکاح وروسته هم حضرت ام سلمه ؓ د خپل پخواني مېړه اولاد پـه ډېره مینه او خواخوږۍ سـره پالنه وکړه. یو ځل یې له رسـول ﷺ څخه پوښـتنه وکړه: یا رسـول الله ما ته به ددې ماشومانو د روزنې او پالنې په بدل کې ثواب راکړل شي او که نه؟ پیغمبر ﷺ وویل: هو! ولې نه.
علامه ابن سـعد وایي چې د هجرت په یوولسم کال سـرور کاینات ﷺ ناروغ شو، حضرت ام سلمه ؓ به د هغه د پوښتنې لپاره زیاتره وخت د حضرت عایشې ؓ حجرې تـه ورتله. یوه ورځ یې پیغمبر ﷺ د سـختې ناروغۍ په حال کـې ولېده، نو له خولې نه یې چیغه ووته. رسول ﷺ هغه منع کړه او ویې فرمایل: مسلمانانو ته چیغه وهل نه ښایي.
ام سلمه ؓ ډېر زاهدانه ژوند درلود، د خدای له عبادت سر یې ډېره زیاته مینه وه، له فرضي روژې نه علاوه یې په هره میاشت کې په پوره التزام سره درې ورځې روژه نېوله.
له ام سلمه ؓ څخه ۳۷۸ حدیثونه روایت شویدي. په فضیلت او کمال کې له عایشه ؓ څخه وروسته په دویمه درجه کې منل شوېده. په ډېر ښه طرز سره به یې د قرآن کریم تلاوت کاوه او د پیغمبر ﷺ له قرات سره یې مشابهت درلود.
ام سـلمه ؓ په ۱۳ هجري کې د ۸٤ کلونو په عمر وفات شوه او ابو هریره ؓ د هغې د جنازې لمونځ ادا کړ.
له حضرت محمد ﷺ څخه یې اولاد نه و. له ابوسلمه ؓ څخه یې څلوور اولادونه وو، دوه لونې: زینب او دُره. دوه زامن: سلمه او عمر.
رضي الله تعال عنها

# د حوت لسمه د تاریخ پاڼه

لیکوال: محمد ګلزاد

د حوت لسمه د اسلامي امارت د بریا او د امریکايي اشغال د پای ته رسیدو ورځ ده. څلوور کاله وړاندې په همدې ورځ د قطر هېواد په پلازمېنه دوحه کې د اسلامي امارت او د امریکا متحده ایالاتو ترمنځ تړون لاسلیک شو. دا ورځ په افغانستان کې د امریکا د اشغال د پای ته رسیدو پیلامه وه او د همدې تړون په پایله کې نړیوال یرغلګر ځواکونه له افغانستان څخه وویستل شول.

دا تړون داسې یو بریالی تړون و چې د تاریخ نمونه او بېلګه بلل کیدای شي. هیچا تمه نه درلوده، چې دیني علماء دې په سیاست کې تر دې حده بریالي وي چې د نړۍ زبرځواک به ددې تړون په پای کې وتلو ته اړ کړل شي.

په اسلامي او افغاني لباس آراسته وو وکولای شول، چې نړۍ ته وښيي، چې د پیغمبر وارث د خپل پېشوا (پیغمبر) یاد تازه کولی شي. د حدیبې سوله چې له حکمتونو او بریاوو ډکه وه. هغه چې کفار د هماغه تړون په اساس مات شول. یو بریالی سیاست چې لوی خدای په خپل کلام کې ښکاره فتحه وبلله.

سرو یرغلګرو شل کاله ددې هېواد بې ګناه انسانان ووژل. دا وژل یواځې وژل نه وو، داسې وژل وو چې په اورېدو یې د بنیادم غونې زیږ شي. افغان ملت یې په ټول وحشت شهید کړ. بندیان یې کړل، ویې کړول او ویې ربړول. د وطن هیڅ یوه ګوښه به نه وي چې د امریکايي اشغالګرو د وحشتونو او ظلمونو شاهده نه وي.

دا ټول تعذیبونه د هغه چا لخوا وو چې ځانونه یې د بشر د حقونو سرغندوی بلل. هغه حقوق چې ددې ملت لپاره یې په خپلو پاڼو کې ځای نه درلود. هیڅ نړیوال بنسټ چې د بشر د حقوقو مدعیان دي، دا غږ پورته نه کړ، چې افغان ملت ولې په دومره ظلم او وحشت ووژل شو. نړیوالو جنايي محاکمو غږ نه شو پورته کولی. خپل قوانین او د بشر نوم یې هېر و.

خو اسلام او افغان وطن خپل مدافعین درلودل. داسې مدافعین چې له ځانونو تېر شول، خو له اسلام او له خپل لوی حق (خپلواکۍ) څخه تېر نه شول. خپل ولس یې د وخت له غلامانو او له پردیو یرغلګرو آزاد کړ. هیچا فکر نه کاوه، چې د نړۍ زبرځواک به ماتېږي او سرټیټی به له افغانستان څخه وځي.

دا ورځ د تاریخ زرینه پاڼه ده چې د راتلونکو نسلونو لپاره د ویاړ ورځ ده. هغوی هم په تاریخ کې خوندي دي چې د نورو غلامان وو او هغوی هم چې له پردیو اشغالګرو یې خپلواکي واخیسته.

په دې وطن چې که هرڅومره د پردیو یرغلونه ډېر دي، په هماغه شمېر یې د خپلواکۍ ورځې هم ډېرې دي. ددې وطن د تاریخ په حافظه کې هغوی هم شته چې خپل ولس یې د پردیو په لاس د واک د ترلاسي لپاره وواژه او هغوی هم چې د اسلام او ولس په دفاع کې یې سرونه نذرانه کړل.

دواړه به د تاریخ په پاڼو کې د راتلونکو نسلونو د عبرتونو لپاره خوندي وي. راتلونکی نسل به د جهاد حماسه هېره نه کړي او د هغوی لپاره به د ویاړونو داستان وي. دا داستانونه باید له نسلونو تر نسلونو دوام وکړي.

د هغوی داستانونه هم باید له یوه نسل تر بل انتقال شي چې د پردیو غلامان وو. هغوی چې خپل ولس یې په غتو غتو بمونو واژه. د سرو یرغلګرو ترڅنګ ولاړ وو او هیڅ انساني عاطفه یې نه درلوده.

د تاریخ درسونه باید هېر نه کړو. د تاریخ یو درس دادی، چې هغوی هېڅکله د ملت لپاره متنازع نه دي چې د پردیو په زور یې خپل ولس وژلی. مسلمان افغان ملت ته په اتفاق، هغوي تر پردیو ډېر د لعنت وړ دي چې پردیو ته یې دې وطن ته د راتلو لاره ورښودلې ده.

که د تاریخ دا درس اوس هم ځوک هېروي، بیا به هم د تاریخ له مخ توری نجات ونه مومي.

دلته له خپل مسلمان ملت سره د شراکت لارې ډېرې او رڼې دي. تر هرڅه لوی مشترک ارزښت اسلام دی. د یوه مسلمان په توګه په هیڅ ډول ددې جواز نه موندل کیږي چې، د پردیو غلامان دې بیا د پردیو په ملاتړ ددې مسلمان ملت د وژلو لارې وسنجوي.

د اوس وخت لوی ویاړ همدای دی چې په وطن کې اسلامي نظام په بشپړه توګه قایم دی. مسلمان افغان ولس د بشپړې خپلواکۍ څښتن دی. دا خپلواکي باید په هېڅ صورت متزلزله نه شي او باید وساتل شي. ترڅو چې په دې وطن کې د اسلام سرښندونکي مبارزین ژوندي وي، دا خپلواکي به دوامداره وي ان شاء الله!

پاتې برخه...۳ مخ

# دافغان ملت د آزادۍ، صبر او قربانۍ ورځ

لیکنه: استاد روح الله هوتک

په تاریخ کې داسې ورځې شته چې د ملتونو زړورتیا، استقامت او قربانۍ یې تلپاتې دي. د افغانستان د تاریخ پاڼې له داسې ورځو ډکې دي، خو د حوت ۱۰مه د هغو مهمو ورځو له جملې څخه ده چې د افغان ملت سرلوړي، استقلال او د ایمان ځواک یې ټولې نړۍ ته څرګند کړ.

دا ورځ یوازې د اشغال د پای ته د رسېدو ورځ نه ده، بلکې د یو ملت د نه ماتېدونکي عزم، د قربانیو د سپېڅلتیا، او د اسلامي نظام د بیا حاکمیت ورځ هم ده.

د ۲۰۰۱ زېږدیز کال د سپټمبر د ۱۱مې پېښې هغه پلمه شوه چې امریکا او د هغې متحدینو د افغانستان د اشغال لپاره وکاروله. د همدې کال د اکتوبر په ۷مه، د امریکا په مشرۍ نړیوال ائتلاف پر افغانستان یرغل وکړ او د اسلامي امارت واکمني یې پای ته ورسوله.

د یرغلګرو موخه یوازې دا نه وه چې د افغانستان خاوره اشغال کړي، بلکې هغوی غوښتل اسلامي نظام له منځه یوسي، د افغاني ټولنې عقیدوي، فرهنګي، او ټولنیز هویت ته زیان ورسوي او افغانستان د خپلو ستراتیژیکو ګټو لپاره د دایمي مرکز په توګه وکاروي.

خو دوی هېره کړې وه چې دا خاوره د غازیانو، مجاهدینو، او سرښندونکو اتلانو ټاټوبی دی. افغانان د عقیدې خاوندان دي، او هیڅ قوت یې له خپلې دیني او ملي ازادۍ څخه نشي محرومولی.

د یرغل له پیل سره، اسلامي امارت که څه هم له نظامي او سیاسي پلوه له سختو ننګونو سره مخ و، خو مجاهدینو د الله پر نصرت باور درلود، د صبر او استقامت سنګر یې ونیو، او د ازادۍ لپاره یې اوږده مبارزه پیل کړه.

په لومړیو کلونو کې، د یرغلګرو پرمختللو وسلو، استخباراتي سیستمونو، او ټکنالوژۍ مقاومت له ستونزو سره مخ کړ، خو مجاهدینو د تدبیر، صبر او پیاوړي عزم له لارې خپل جهادي سفر ته دوام ورکړ او په دغه لارکې یې ګړندي ګامونه واخیستل. دا یو اسانه سفر نه و، په زرګونه شهیدان، بندیان، کونډې او یتیمان پرې قربان شول، خو د ایمان ځواک دا مسیر ژوندی وساته.

په ۲۰۲۰ زېږدیز کال د فبرورۍ په ۲۹مه (د حوت ۱۰مه)، د اسلامي امارت استازو او د امریکا ترمنځ د دوحې تاریخي تړون لاسلیک کړ.

دا تړون یوازې یو کاغذي توافق نه و، بلکې د شل کلن جهاد، قربانیو، سیاسي بصیرت، او قوي تدبیر نتیجه وه.

په دې تړون کې یرغلګر اړکړای شول چې دوی او ټول متحدین به یې له افغانستانه وځي، د افغانستان په کورنیو چارو کې به مداخله نه کوي، د افغانستان خاوره به د هېڅ بهرني ځواک تر واک لاندې نه وي، امریکا ومنله چې د جګړې پر ځای، مذاکرات یوازینۍ حل لاره ده. دا هغه څه وو چې اسلامي امارت له لومړي سره پرې



پاتې برخه...۳ مخ

# استعمار

لیکنه: صمیم

استعمار، چې په انګلیسي ورته Colonialism وايي، په اصل کې عربي لغت او د بیا رغونې او پرمختګ په معنا دی، خو په اوسني عصر کې د یوه ځواک یا خلکو له خوا پر یوه بله سیمه یا خلکو سیاسي واک درلودلو ته ویل کیږي.

دا اصطلاح څو ډوله تعریف شوې، چې موخه ترې په نورو خلکو واک او ځواک چلول دي. د ښکېلاک په پروسه کې ښکېلاکګر ښايي د رغونې په نوم خپل مذهب، ژبه، اقتصاد او ګڼې نورې کلتوري چارې پر مستعمره شویو تحمیل کړي.

استعمار یوه داسې ټولنیزه، اقتصادي او سیاسي پدیده ده، چې د یو هېواد یا قوم لخوا پر بل هېواد یا قوم د ځواک، سیاست، سرچینو او یا کلتور د تسلط لپاره ترسره کیږي. موږ په دې مقاله کې د استعمار پر تعریف، مخینه، میراثونو او اړوندو نورو موضوعاتو بحث کړی دی.

د کولنز انګلیسي قاموس، استعمار داسې تعریفوي: «د ځواکمن هېواد له خوا د لږ ځواکمنو هېوادونو د کنټرولولو چاره ده، چې د هغوی سرچینې د خپل ځواک او شتمنۍ د زیاتولو لپاره کاروي.»

د ایران «دانشنامه حوزوي» وېبپاڼه کې د استعمار د تعریف په تړاو څېړونکو ویلي: «استعمار د کډوالۍ په معنا دی، چې خلک له پرمختللو هېوادونو تشو سیمو یا لږ پرمختللو سیمو ته د تمدن په نوم لېږدوي.» خو په واقعیت کې د استعمار عملي پدیده له لغوي معنا سره توپیر لري او په نورو هېوادونو کې پر استثمار راڅرخي، په همدې تړاو پوهانو او څېړونکو استعمار د دورو له اړخه په څو برخو وېشلی دی.

لومړی- زوړ استعمار، چې ځینو یې پیل د مسیح تر پیدایښت ۱۱ پېړۍ، او ځینو بیا نهه پېړۍ وړاندې ښودلی او تر ۱۵ مې پېړۍ یې دوام کړی. په دغه استعمار کې ځواکمنو او زورآورو د نورو حکومتونو په مادیاتو قبضه کړې؛ خو د هغوی عقیدوي، کلتوري او مذهبي ارزښتونو ته یې زیان نه دی رسولی.

دویم- نوی استعمار، چې له ۱۶ پېړۍ پیل شوی. دغه استعمار د مرستو په نوم خپل یرغل پټ ساتلی او عقیدوي پلانونه یې عملي کړي. دا ډول استعمار لومړی د یو هېواد دننه د خپلو روزل شویو غلامانو په وسیله خپلې موخې پر مخ بیايي.

دا چې له استعمار وروسته څه پېښ شوي په لاندې ډول یې څو بېلګو ته اشاره کوو:






## ستاسو سوداګریزې خبرتیاوې





## اعلانات تجارتی شما

«اسرائیل په فلسطین کې» د ډاکټر نثار احمد صمد واصفي لخوا لیکل شوی اثر دی چې د فلسطین او یهودي ملت د څلورو زرو کلونو سیاسي تاریخ په علمي او څېړنیز ډول سپړي. لیکوال د دې موضوع په اړه د پښتو ژبې د علمي او تاریخي ادبیاتو په ډګر کې یوه تشه ډکه کړې ده.

په دې کتاب کې لیکوال د فلسطین د تاریخ د سیاسي، ټولنیز او جغرافیايي اړخونو اړوند تفصیلي څېړنه کړې ده. د بېلګې په توګه، هغه څرګندوي چې فلسطین د نړۍ د ختیځ په زړه کې پروت دی او د مدیترانې، افریقا او آسیا ترمنځ د پل حیثیت لري. په همدې ډول، د فلسطین جغرافیه او طبیعي شتمنۍ، په ځانګړې توګه د اردن سیند، ارام سمندرګی او د هغې د غربي سیمې ستراتیژیک اهمیت، د دې سیمې د استعمارګرو لپاره تل یوه مهمه موخه وه.

لیکوال د فلسطین لرغوني تاریخ ته په کتلو سره ښیي چې د کنعانیانو، عبرانیانو، او بني اسرائیلو ترمنځ اړیکې څه ډول وې. د تورات د تحریف اړوند هغه د بېلګې په توګه دا یادونه کوي چې په تورات کې د نارینه ماشومانو د وژلو او د پېغلو نجونو د ځان لپاره پرېښودو بې اساسه احکام د یهودیت په ناوړه بڼه وړاندې کوي، کوم چې د سیاسي اهدافو لپاره تحریف شوي.


# یو کتاب، څو خبرې

لیکنه: سیف الله قاسم

## د سپین کاروان سرلاري



د سپین کاروان سرلاري د اسلامي امارت د پنځوس تنو مخکښو څېرو ژوند لیکونه دي چې راټولوونکی یې قاري عبدالستار سعید دی. دا کتاب حکمت خپرندویه ټولنې په ۴۲۸ مخونو کې خپور کړیدی. چاپ کال یې ۱۴۰۳ه ش دی چې په زرو ټوکونو کې چاپ شویدی. دا کتاب له دې مخکې هم دوه واره خپور شویدی او دا یې دریم وار دی چې چاپیږي.

ددې کتاب پر لومړي مخ د حکمت خپرندویه ټولنې د مشر یادداښت راغلی دی. خپرندویه ټولنې په دې خوښې ښودلې ده چې د نامتو لیکوال قاري عبدالستار سعید دا کتاب د پوهې او مطالعې مینه والو ته وړاندې کوي.

دا کتاب په لومړیو کې د کتاب په بڼه نه و. د افغانستان د اسلامي امارت د مشهورو شخصیتونو دا ژوند لیکونه له دې وړاندې د اسلامي امارت په بېلابېلو چاپي او پر لیکه رسنیو کې خپاره شویدي. د کتاب لیکوال ښاغلي سعید د دریم چاپ په یادښت کې لیکلي دي چې:(( ستاسو په لاس کې د سپین کاروان سرلاري د هغو لیکنو مجموعه ده چې د امریکايي اشغال ضد جهاد په دروان کې به د اسلامي امارت په میاشتنیو مجلو کې خپریدلې او هدف یې لوستونکو ته د مقدس جهاد د هغو اتلانو معرفي کول و چې د اسلامي امارت په صف کې یې په بیلابیلو نظامي، ملکي او علمي ډګرونو کې د قدر وړ خدمتونه کړي وو.))

ددې کتاب د چاپ په اړه د اسلامي امارت د فرهنګي چارو کمیسون په خپل یادداښت کې لیکلي دي چې: دا کتاب د پنځوسو تنو مشرانو د ژوند په ابتدايي حالاتو، مبارزو، زده کړو او جهاد رڼا اچوي. د هغوی د هغو خدمتونو یادونه کوي چې د ژوند له پیله یې تر شهادته، سر ته رسولي دي.

په دې کتاب کې د اسلامي امارت د ټولو شخصیتونو ژوند لیکونه نه دي راټول شوي. د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسون په خبره دوی په دې کتاب کې هغه ژوند لیکونه راټول کړل، چې په سمدستي توګه له دوی سره په لاس کې وو. د دوی په وینا، که یې د نورو ژوند لیکونو تر راټولولو پورې انتظار کاوه نو؛ د کتاب چاپ به ځنډمن شوی وای او همدارنګه به ددې کتاب ضخامت هم له معمول اندازې زیات شوی وای.

((د فرهنګي کمیسون د تاریخ څانګه هڅه کوي چې له دې ټولګې څخه د پاتې شویو نظامي، علمي، او سیاسي څېرو ژوندلیکونه هم په همدې شکل مرتب او راتلونکې ټولګه کې یې د نشر لپاره آماده کړي، ترڅو د اسلامي امارت د فداکارو او مخلصو شخصیتونو کارنامې، چې د تاریخ په سخت پړاو کې یې د اسلامي نظام او مومن اولس د خدمت په لاره کې سترې قربانۍ ورکړې د تاریخ حافظې ته وسپارل شي او راتلونکي نسلونه یې له خدمتونو او قربانیو څخه زده کړه وکړي.))

تاریخ د راتلونکو نسلونو لپاره د عبرتونو او درسونو ټولګه وي. که راتلونکي نسلونه افغان تاریخ لولي، باید د خپلو اتلانو له تاریخ هم خبر وي. زمونږ راتلونکی نسل باید د جهاد او مبارزې سرلارې وپیژني. دا کتاب همداسې یو کتاب دی چې له برکته به یې ځوان نسل د اسلامي امارت له سرغندویه شخصیتونو سره اشنا شي او هغوی به یې د ځان لپاره الګو وټاکي.

ددې کتاب د لیکوال په خبره:(( په دې کتاب کې حتی الوسع کوښښ شوی چې د اسلامي امارت د موسس امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په ژوند لیک سربیره د امارت د یو شمیر هغو مشرانو سوانح راټول شي چې تراوسه وفات شوي او له دنیا یې رخصت اخیستی.))

په دې کتاب کې د افغانستان له هرې څنډې د هر قوم هغه اشخاص راغلي دي چې د دیني اخوت او جهادي سنګر په اعتبار ټول د یوه کاروان ملګري او د اسلامي امارت د یوې کورنۍ غړي دي او د یوه بیرغ لاندې یې د مشترک هدف او ارمان په لاره کې له ژوند سره مخه ښه کړې ده.

په کتاب کې د راغلیو شخصیتونو ژوند لیکونه، د هغوی د شهادت د نیټې په اساس ترتیب شویدي. خو یواځې د اسلامي امارت د څلوورو شخصیتونو ژوند لیکونه په دې اساس مخکې کړل شویدي چې په یوه وجه د اسلامي امارت د زعامت نسبت ورته کېده. په دې څلوورو شخصیتونو کې لومړنی مرحوم امیرالمومنین ملا محمدعمر مجاهد، شهید امیرالمومنین ملا اخترمحمد منصور، مرحوم ریس الوزرا ملا محمد رباني او د اسلامي امارت مرستیال شهید ملا عبیدالله اخند (رحمهم الله) شامل دي.

ددې کتاب د لیکوال ښاغلي سعید په وینا چې:(( د کتاب محتویات او معلومات موږ د اړوندو اشخاصو له نږدې ملګرو او د کورنۍ له غړو څخه په مستند شکل ترلاسه کړي او له تدقیق وروسته مو په کتاب کې ځای کړي دي چې په اکثرو ځایونو کې د پېښو د روایت کوونکو نومونه یاد شوي دي.))

د کتاب د لیکوال په فکر و کار دې برکت وي.


حریت اسلامي او ملي پولو ته بشپړ احترام لري. د لیکنې مسؤولیت د لیکوال پر غاړه دی!

د امتیاز څښتن: حریت راډیو | مسؤول مدیر: محمدالله احساس | ډیزاینر: همدرد | ادرس: کابل، دارالامان | برېښنالیک: weekly@hurriyat.net

www.hurriyat.net | Hurraiyat radio pashto | @Hurriyatpa-radio | +(93) 705 885 885 | @Hurriyatpa | Hurriyatpa